# افغانستان ته د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام د موقت عمومي رييس د سفر په اړه مطبوعاتي بيانيه

**کابل، د جوزا ۱۶، ۱۳۹۶—** د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام او د افغانستان اسلامي جمهوري دولت له يوه بل سره د لا مثبتو اړيکو په رامنځته کولو کار کوي. په همدې موخه به د ملګرو ملتونو د پراختيايي پروګرام موقت عمومي رييس او د ملګرو ملتونو د سرمنشي مرستيال، ښاغلی ټېګې نېورک ګېټو، د جوزا له ۱۶ تر ۱۸ په کابل کې وي او مهمه ناسته به يې له افغان ولسمشر جلالتمآب محمد اشرف غني سره وي. د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام له ۱۳۴۵ کال راهيسې د افغانانو او افغان دولت ملاتړ کړی، او اوس دواړه غاړې غواړي چې سره کيني او يو لړ وروستيو ننګونو ته د حل لار راوباسي، او د راتلونکي لپاره يوه کړنلار وټاکي.

د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام له افغان دولت سره پدې موافق دی چې د تخنيکي مرستې هر ورانډې کوونکي بايد دا ډاډمنه کړي چې د ملاتړ بڼه يې پر لوړو معيارونو برابره ده، او همدا راز بايد د پايدارۍ يو طرز العمل وجود ولري چې له مخې يې ملي ظرفيت جوړ او هېواد په ځان تکيه شي.

د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام خپله ژمنه تازه کوي چې خپل فعاليتونه به د افغانستان له سولې او پراختيا ملي چوکاټ سره همغږي کوي او له ماليې وزارت او نورو سکتوري وزارتونو سره به په ګډه کار کوي. د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام پدې برخه کې د دولت د ملي مالکيت د پياوړي احساس هرکلی کوي او له افغان دولت سره د اړيکو د رغولو هيله څرګندوي.

د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام له هغو اندېښنو خبر دی چې د افغانستان جمهوري دولت او نورو غاړو تر ۲۰۱۲ کال وړاندې د ناسم مديريت د بېلګو په اړه يادې کړي دي. د ملګرو ملتونو د تفتيش او پلټنو دفتر د ۲۰۱۲ او ۲۰۱۵ کلونو ترمنځ د افغانستان د دفتر ۱۳ دوسيې خپرلي يا ارزولي دي، چې پکې د زرګونه پاڼو شواهدو او له زرو زياتو تدارکاتي پروسو خېړل؛ او په درېو هېوادونو کې له شاهدانو سره مرکې، شاملې وې. د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام خپل ټول کارکوونکي، داخلي او خارجي، د ورته اخلاقي معيارونو له مخې مسوول ګڼي او پر ټولو د پلټنو يو ډول کړنلارې پلي کوي.

په پای کې د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام مني چې له ۲۰۱۲ کال مخکې موده کې يې د افغانستان په پروګرام کې د ناسم مديريت ځينې مواردو شتون لره. په افغانستان او هر بل هېواد کې چې د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام کار کوي، دوی په خپله کاري ساحه کې د هېڅ ډول ناسم چلند زغم نه لري. هېڅ يو له هغو ښکېلو داخلي او خارجي کارکوونکو اوس له يو.ان.ډي.پي سره کار نه کوي، او پر يوه نړيوال شرکت د اخلاقي معيارونو د ماتولو له امله بنديزونه لګول شوي.

د ملګرو ملتونو پراختيايي پروګرام کافي حقوقي شواهد ونه موندلای شول چې د نورو افرادو پر وړاندې هم اقدامات ترسره کړي، او يو.ان.ډي.پي دا مني چې دا پايله د افغانستان دولت ته قناعت بښوونکې

نه ده. که دولت په پام کې لري چې پدې برخه کې خپل اقدامات ترسره کړي، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام به له دې هڅو سره هر ډول ممکنه مرسته وکړي.

د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام دا اوس پخپل لومړیتوب کې راوستې چې ورته ستونزې په راتکونکي کې تکرارې نشي. د اعظمی شفافیت او حساب ورکونې په موخه، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام له ۲۰۱۴ کال راهیسې خپل سیستمونه سم کړي او ګڼ داسې مدیریتي اصلاحات یې راوستي چې د دوی ورتیا یې د پروګرامونو د څارنې او تعقیب په برخو کې خورا لوړه بیولې.

***

**د رسنیو لپاره اړیکه:**

جلال الدین کسات، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام؛ jalaluddin.kasaat@undp.org؛ ۰۷۹۹۴۵۰۶۳۰
انجلي کواترا، د ملګرو ملتونو پراختیایي پروګرام مرکزي دفتر؛ anjali.kwatra@undp.org؛ ۱۲۱۲۹۰۶۶۳۸۹+